بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيمِ

د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




Dr.Said Afghani


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




# استاد تمهيد « سيلانى »

د نشرنيټه : 2 اپريل 2026 ميلادى

# صيب، صايب، صائب، سيب، سائب که صاحب؟

د ټولنيزو رسنيو ډېرى کارونکي « صيب، صايب، صائب، صاحب، سائب، ساېب او سيب » په يوه معنا کاروي. خو يادې کلمې بېلابېلې معناوې لري او د کارونې ځانګړي ځايونه لري. ځينې ليکوالان په دې آند دي، چې ژبه څه ډول ويل کيږي، يا تلفظ کيږي بايد هماغسې وليکل شي.
دا آند تر ډېره د منلو نه دى، ژبپوهنه په ځانګړې توګه معياري ژبه او ليکدود دا ډول نظريات او ځرګندونې نه مني. ځکه هره ژبه او ليکدود ځانته ځانګړي ژبنيز اصول لري، چې د هغه په رڼا کې د يوې ژبې ژبپوهان د خپلو او پرديو کلمو په اختصار، بدلون، مستعاريزم او نيولوګيزم په رامنځته کولو کې د کلمو تاريخي شاليد ته په کتو سره پرېکړه کوي او يوه کلمه د معيار په توګه مني.

که ځينې ليکوالان په دې آند وي، چې موږ خپلې ژبې ته راغلي وييونه مفغن کو او د خپلې ژبې په طرز و اصولو يې ليکو، نو دا کار په دې معنا نه دى چې موږ هره مستعار شوې کلمه په خپله خوښه مفغن کړو. د کلماتو مفغن کول ځانته ځانګړي اصول لري او شرايطو ته په کتو ترسره يې متخصصين ترسره کوي، نه عام ولس.
وييز ګړدودونه تر ډېره د ګرامر او معياري ليکدود متابعت نه کوي. موږ په ورځنۍ محاروه کې د سهولت او سلاست په موخه کلمې په ګړدويزه بڼه کاروو، مګر په معياري ليکنو او محاورو کې د کلمو معياري بڼو ته بايد خانګړې پاملرنه وکړو.
ځينې لوستي کسان د پوهې او ناپوهۍ له مخې ځينې کلمات د معياري بڼو پرځای په لهجوي بڼه يا هم هغه بڼه ليکي چې څه ډول ويل کيږي. لکه : د ځو پر ځای زو. د صحيح پر ځای سيي يا هم سهي، د خوشحال پر ځای خوشال، د صاحب پر ځای صبب او صايب، د زياتي پر ځای آتي...
په دې ليکنه کې غواړم يوازې د « صيب، صايب، صائب،صاحب او سيب... » په معنا او دکارونې پر ځايونو خبرې وکړم.

## لومړى: صيب

صيب عربي کلمه ده چې په بېلابېلو لويو او وړو وېپانګو کې ځانګړې معنا او د کارونې ځايونه لري.
په المعاني قاموس کې ياد ويى د باران لرونکې وريځې معنا ورکوي.( المعاني )

په « دهخدا » وېپانګه کې د باران، پرلپسي باران او هغه وریځه چې باراني وي همدارنګه یو ځيز ته د چا یا یو کس رسېدل او یو څۀ ته رسېدلو په معنا هم کارو کېږي.( دهخدا )
صیب: دروند وربښت، پرلپسي باران. ( فرهنګ واژګان فرآن ). دا کلمه د قران کریم په البقرې سوره کې څو ځلې کارول شوې ده، لکه: اوکصیب من السماء فیه ظلمات و رعد و برق. (۱۹/۲). نوموړې کلمه په ځینو نورو وېپانګو ( عمید، انی دیک، جدول یاب، ابادیس ...) کې هم په پورتنی معنا کارول شوې ده.

## دویم: صایب/ صائب

دا کلمې هم لۀ آره عربي دي، چې په ډېرو وېپانګو کې په یوه معنا کارول شوې ده، چې دلته یې ځینې تاسو ته د بېلګې په توګه راوړم:
صایب: سم او ربښتیا ( فرهنګ جامع معین). صائب: سم او ربښتیا، ربښتینی ( فرهنګ عمید). صائب: درستکار و راست کار
راست و درست، رسا رساننده.
یکی چشم است کو بیند عجایب
شود ز آن دیدنی رای تو صایب
ناصر خسرو په روشنائی نامه کې د « صایب» کلمه د ربښتیا، سم، خلاصه لاره په معنا کاروې. په کلیله او دمنه کې یاده کلمه داسې کارول شوې ده: « ودر معرفت کارها و شناخت مناظم آن رأی ثاقب و فکرت صایب روزی کرد.... » ( دهخدا وېپانګه)
همدارنګه په ځینو وېپانګو( عمید، ابادیس، دهخدا...) صایب او صائب په یوه معنا کاروي.

## دریېم: صاحب

دا ویی هم لۀ آره عربي ده. چې ډېری وېپانګو کې یې بېلابېلې معناوې وړاندې کوي:
معاشر، هم صحبت، همراه، مرده ، مالک، بدون صاحب، آن کۀ یا ان چه صاحبش مرده باشد. بدون صاحب نوعی نفرین به معنا کاش دارنده اش می مرد. شریعت، هغه چا چې شریعت راوړی وي، پیغمبراو د اسلام پیغمبر. هغه څوک چې د دولتي مقام او رتبې خاوند وي، افسر. ( فرهنګ معین، دهخدا، عمید، المعاني...)
د پورته دریېو سپړل شویو کلمو څخه « صاحب » هغه ستاینوم دی چې موږ یې په لیکنو او محاورو کې د خپلو مخاطبینو د درناوي په موخه کارو. لکه: داکتر صاحب، پوهاند صاحب، رئیس صاحب... په دغۀ ترکیب کې د صاحب ستاینوم د څښتن، درلودونکي، د رتبې او مقام درلودونکي په معنا کارول کېږي. پورته دوه نورې کلمې « صایب/ صائب او صیب » د صاحب معنا نشي وړاندې کولی او باید په لیکنو کې یې لۀ کارولو ډډه وکړو.
یو ډله نور لیکوال د « صاحب» پر ځای « سیب، سایب، سائب هم کاروي. دا کار لۀ دوو اړخونو د کره کتني وړ بربښي او لۀ کاروني یې باید ډډه وشي:
لومړی: صاحب او سیب دوه بېلې کلمې دي، چې حتا تاریخي ریښې او د ژبو کورنۍ یې سره توپیر لري. « سیب » د پهلوي ژبې کلمه ده، چې په پهلوي ژبه کې د « سپ»، اورامانې کې د « سوو » ګیلکی کې د « سب»... په بنو راغلې ده. مګر برعکس « صاحب» د عربي ژبې ویی دی.
دویم: دا دوه کلمې دوه بېلې معناوې او د کاروني ځانګړې ځایونه لري، چې یو لۀ بله ډېرر توپیر لري. د صاحب پر معنا مې پورته خبرې کړې دي، خو « سیب » په وېپانګو ې لاندې معنا ورکوي:
د یو ډول ونې میوه ده، ګنګس، ګیچ او بې خوده ته هم وايي. ډالی، بخشش، د اوبو تلل او د اوبو وړل. ( معین، دهخدا، عمید... وېپانګې )

درنښت! سیلانی
غالب پوهنتون ـ کابل

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org